مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

اکبربری ۲۰۲۳/۱۱/۱۸

# بد ذوقه

ده وې زما د جینۍ مخ سپینه سپوږمۍ ده
مرغلري یې غاښونه
سره یاقوت یې دواړه شونډې
او د سروي په شان دنګه یې ده ونه
*****
صراحي یې نرۍ غاړه
وروځي دواړه کښلي توري
سترګي دوه ځلانده ستوري
او تک توروېښته یې سم کپچه ماران دي
*****
پدي سپینه سپوږمۍ کښېږده بیا په مینه
د غومبوروپه ځای دوه د ګلاب پاڼي
او چنار په ځای د پزي
او رفتار ورکړه دې سروي ته د زرکي
خندا هم په شان د زرکي
له کټکي او کړس نه ډکه
*****
دغه ټول خیال کي انځورکړه
په ډېر پام هسي چي ما درته ویلي
او چي خلاص شوې لدې کاره
بیا رڼې کړه د خیال سترګي
نو به ووینې په سترګو زما ښکلې :
چا چي زړه له ما نه وړی
چا چي اور را پوري کړی
د چا مینه چي مي رېږدوي هرغړی
*****
ما هم ژر خیال کي انځور کړه
کټ مټ هغه شان چي ده ؤ راته ویلي:
*****
یوه سپوږمۍ په سر د سروي
صراحي یې نرۍ غاړه
او تک تور کپچه ماران په ځای د زلفو
هسک چنار په ځای د پزي
سره یاقوت په ځای د شونډو
او دوه کښلي توري هم په ځای د وروځو


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

مرغلري شوه غابنونه
د غومبورو په ځای دوه د ګلاب پاڼي
او د سترګو په ځای دوه ځلانده ستوري
*****
بیا مي سروي ته رفتارورکړ د زرکي
او خندا مي ورله ورکړه
په کټکي په شان د زرکي
او رهي مي کړه په ناز په شان د زرکي
*****
او چي وې خندل په کړس په شان د زرکي
نو قسم چي، خدای قسم چي
زما پر تن باندي وېښته له ډاره سیخ شول...
رانه لاړ د تېښتي ورکه
سر تر پایه پرکېدمه
ترې بېحده ډاریدمه
وارخطا مي مخ ورواړاوه اشناته
*****
وې مي یه کمبخته یاره!
دا یه څه بلا اخته یې؟
*****
څه ګناه وه له تا شوې؟
یې د چا آزار وهلی؟
چي ته واووښتې په دغه شان شیشکي !...
*****
ده په قار په څنګ راوکتل رهي شو
*****
اوس له ما نه مرور دی
انډیوال زما د عمرونو
د اوږدو میاشتو، کلونو
او بدذوقه مي لا هم بولي هرچاته !


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولـئ